# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com | afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

انجنیر داؤد اڅک
۲۸ مارچ ۲۰۲۵

## بلوڅی پیغلي



سنګرو کي په شمېردي زموږ ملالي تورپېکی
بـلـوڅـانـي  هـره پـیـغـله ده مـلالـه تـورپــېکی

کاویـانـي جـنډه ئې جګه کړله مخته د ضحـاک
جار کړي ئې تر خاوري توري زلفي ملا نرۍ

سپین لیچي سور سالو ئې د میوند اورونه پاشي
چي څـنـګ ته ئې روانه منظوري ځوانه دلګۍ

د رستم زخمي ښاماردۍ ماهرنګ ئې خولې ناسته
ورته ایښی ئې خپل ژوند خوږه ځواني ده په ډالۍ

د مظلوموآه طوفان سو په لمن کي زلزلې
د بـولانــه تــر خـیـبـره انګـازې د ازادی
انجنیر داؤد اڅک